# بسم الله الرحمن الرحيمط

## د سر خبري

کندهار پوهنتون– پاچاخان علمي څېړنيز مرکز وياړي، چې د افغانستان په پخوانی پلازمېنه او اوسني ستر فرهنګي او سياسي مرکز کندهار کي د هېواد د وروستيو څلوېښتو) ۴۰ (کلونو) ۱۳۵۲-۱۳۹۲ (پر سياسي، فرهنګي، ټولنيز او اقتصادي موضوعاتو باندي ئي هر اړخيزي څېړني او سپړني په درې ورځنی نړۍ واله علمي څېړنغونډه کي د ۱۳۹۲ کال د لړم په ۱۴-۱۵-۱۶ ورځو کي تر سره کړې.

ددې نړۍوالي علمي څېړنغونډي موخه داوه، چي د هېواد درانه پوهان او څېړونکي که په هېواد کي دننه او يا دباندي دي، ديو ملي رسالت او مسؤليت په توګه ددې) ۴۰ (کلونو ګټوري تجربې، اغېزمني وسيلې، په سياست او ژوندانه کي زغم او تعقل، زورزياتی او احساسات، د هغو ګټي او زيانونه، نيمګړتياوي او تېروتني داسي وشني او وسپړي، چي د خپل تاريخ او ملي مسايلو په اړه دحقيقت څلانده ډېوه د راتلونکو نسلونو مخ ته کښېږدي او داسي لاري او ميتودونه وړاندي کړي، چي د اغېزمني ملي واکمنی بنسټونه پیاوړي کړي، څو دملي عزت، برم او عظمت د بيا راژوندي کېدو ولور ته ګام پر ګام پر مخ ولاړ سو.

ودې نړۍ والي څېړنغونډي ته د هېواد پر او څارو او وتلو پوهانو سربېره د نړۍ په ګوټ ګوټ کي زموږ ځيني پردېس او شو په شو پوهان او څېړونکي له فرانسي، سويس، بلجيم، ډنمارک، جرمني، بريتانيا، امريکا، کاناډا، هندوستان او پاکستان څخه هم رابلل سوي ول .دکندهار علمپاله اولس دا تلوسه درلوده چي د خپلو درنو پوهانو مبارکي څېرې په دې سرلوړې خاوره کي ووينې او د نېک شګون په توګه ئې ګڼه.

د سمبالتيا د جرګه ګی سلا پر دې سوه چي لاندي ښاغلي استادان او څېړونکي دې څېړنغونډي ته راوبولي:

استاد بختانی، حبيب الله رفيع، څلمي هېوادمل، سعدالدين شپون، ثريا پوپل، عبدالغفور لېوال، سلېمان لايق، حبيب منګل، رشيد آرين، ظاهر افق، فاروق اعظم، عبدالباري جهاني، معصوم هوتک، سيال کاکړ، عبدالرؤف رفيقي، درويش درانی، صادق ژړک، نعيم آزاد، لياقت تابان، عصمت الله زهير، سيد خير محمد عارف، عبدالکريم بريالی، راحله کاکړ، راحله درانی، نصيب الله سيماب، برکت شاه کاکړ، رحمت شاه سايل، فضل الرحيم مروت، اورنګ زېب ارشاد، زرين انځور، صفيه حليم، صفيه صديقي، اسمعيل يون، ګل پاچا آزمون، اشرف غني احمدزی، غريب، رسول باوري، اسدالله غضنفر، خوشال روهي، ابراهيم شينواری، نجيب منلی، نثار احمد صمد، لطيف بهاند، نبي مصداق، رحمت ځيرکيار، امين باوري، رفيع الله نيازی، پردلي، ناصر ناصر، محی الدين هاشمي، شپون، علي احمد جلالي، شکريه بارکزی، احمد ولي اڅکزی، عبدالله احسان، رحمت اريا، پوهاند حسن کاکړ، روستار ترکی، علم پايند، اعظم سيستانی، هارون خپل، طارق رشاد، خالق رشيد، داود اعظمي، داود جنبش، غوث خيبري، زمان ستانېزی، عبدالرازق پالوال، حيات الله رفيقي، فضل محمد پنهان، طالب رحيمي، علي ارغنداوی، ولي ځلمی، اصف صميم، ودير ساپی، وحيد مژده، عصمت قانع، صديق الله بدر، اولسمل، محمود اڅکزی، وکيل احمد متوکل، عبدالهادي حماد، عبدالمحمد درمانګر، پروين ملال، عبدالواحد وثيق، پاينده محمد ارغنداوی، واحد نظري، عبدالرحمن رحماني، ډاکټر هاشميان، فريد ميوندي، سليم بابی، نسيم سليمي، محمد يار يار، عبدالنافع همت، عبدالمالک همت، شاه محمود بری، محب الله رحمت، کبلی اميري، ناصر ريشاء، صبغت الله غورځنګ او داسي نور استادان، د هېواد ګرده دولتي او خصوصي پوهنتونونه، د افغانستان د علومو اکاډيمي، د سيمه ايزو او ستراتيژيکو څېړنو مرکزونه دې څېړنغونډي ته رابلل سوي ول.

ددې څېړنغونډي د جوړېدو مفکوره د ۱۳۹۲ کال د غويي په مياشت کي راوزېږېده، کله چي ماته په کندهار پوهنتون کي د پاچاخان علمي څېړنيز مرکز مشري راترغاړي سوه .د پوهنتون له مشر تابه سره تر بحث وروسته د غبرګولي پر ۱۵) (د عبدالله محزون پوپلزي د سلمي کليزي په سيمينار کي دا موضوع ما له فرهنګي مشاور وزير هېوادمل سره مطرح

کړه او په هغه ورځ ئې د اولسمشرۍ او د لوړو زده کړو د وزارت پر مقامونو د لګښت د غوښتنپاڼو طلب وکړئ او په سبا ئې وکابل ته ورسره یووړې .میاشت تېره سوه د لګښت څرک لګېدلی نه و .تیلیفوني ډاډ راکړه سو او د چنګاښ پر ۲۴ موږ د لوړو زده کړو وزارت له لاري ټول دولتي او خصوصي پوهنتونونه، دافغانستان د علومو اکاډیمي، د سیمه ایزو او ستراتیژیکو څېړونو مرکزونه په څېړنغونډه خبر کړل چې د مقالو کښنګ ته تیاری ونیسي .د زمري د میاشتي په سر کي مو د څېړنغونډي طرحه، د موضوعاتو نوملړ، د جوړېدو تقریبي نېټه له ټولو اکاډیمیکو مرکزونو او فرهنګي مشاوریت سره شریک کړل او د هغې میاشتي په پای کي خپله اړسوم چي کابل ته سفر وکړم او ځان پوره کړم .په علومو اکاډیمۍ کي مي له فرهنګي مشاور وزیر سره ولیده، د طرحي ستاینه وسوه او په کندهار کي نیونګ هم ارزښتمن وګڼل سو او د کندهار پر پخواني علمي برم بحث وسو، نور کسان هم ناست ول او د کوټي یو فرهنګي مېلمه هم حاضر و، هېوادمل وویل..." :زما او رفیع) موخه ئې څېړندوی حبیب الله رفیع دئ (له پاره په علم کي کندهار کعبه ده "... کور ئې ودان خوندوره غرمنۍ ئې په اکاډیمۍ کي جوړه کړې وه، ده خپله څه تلوار درلودئ، خو د خدای په امانۍ پر مهال ئې دوني اشاره وکړه :که په کابل کي جوړه سي، لګښت به ئې په اسانه راووزي!؟ او رهي سو.

ماته مي ذهن او زړه دواړو تر غوږ راتېره کړه چي لا تر اوسه هم د کابل انحصاري سیاست د پخوا په شان پیاوړی دئ.

ماپښین ئې د علومو اکاډیمۍ له رئیسي څېړنپوه ثریا پوپل سره مي کتنه وه، طرحه ورته رارسېدلې وه، په هغه ډېره خوشحاله وه او د لګښت په نه اجراء ئې هغوني خپه سوله .د لومړي سر د سړي د خبرېدو خبره ئې راسره مطرح کړل، خو ما ورغبرګه کړله :داسي به هم بې خبره نه یي !بحث واوښتی راواوښتی زیاته ئې کړه ..." :دلته اوس داسي ذهنیت پیاوړی کېږي چي ځیني) کېدای سي موخه به ئې ستمیان او سقویان وي (وایي موږ غواړو هغه تاریخ چي پر جعل؟ باندي ولاړ دئ، سم کړو یعني هغه تاریخ چي کهزاد، حبیبي، محمد علي، زهما، بېنوا، رښتیا، غبار لیکلی دئ!!؟؟"

سبا سهار مي له اکاډیمیسن سلیمان لایق سره ولېده، دڅېړنغونډي پر طرحه او وخت باندي خبري وسوې، ده زیاته کړه :
..."انتخابات راروان دي له سیاسي لحاظه دا وخت ډېر مناسب نه دئ، که ئې بیا هم نیسئ ډېري مقالې به وغمېږي، پر دې دوره به څوک څنګه ورغېږي، کله چي زه دباندي وم زما کور مارشال نیولی و، له اروپا څخه مي په تیلیفون کي ورته وویل :زه خپله ښځه او کور پخپله ساتلای سم او څو ورځي وروسته کابل ته درځم ".خبري څه ډېري سوې د هاتف صاحب د مرګ خبر او د هغه د ژباړل سوي کتاب" مروري بر وضع سیاسی آسیای میانه "او ژوند لیک د چاپ په اړه خبري رامنځ ته سوې، د لایق صاحب پر مخ ښکاره کېده چي ډېر په خواشینی سو، وې ویل ..." :خدای)ج (پر موږ )پښتنو (باندي قهرېدلی دئ .دده په وجود کي د ملت عقل پروت و، دی په صحرا کي هغه سیند و چي موږ ګټه ځیني وا نه خیسته ... کاش زه خبر وای، ما به یو څو کرښي دده پر شخصیت باندي په دغه کتاب کي کښلي وای ...دا به مي خلکو ته توضیح کړي وای، چي په هر څومره چپي حکومت کي چي ده کار کړی دئ، دی یوملي شخصیت پاته سوی و او تل د خلکو پر خوا ولاړ سړی و ...خوا مو مه بدېږه، حبیبي صاحب) لوی استاد (او رشاد صاحب) علامه بابا (ډېر فاضل او په سیاست پوه عالمان تېرسوي دي، خو په سیاست کي دی بې ساری و، دده سیاسي فهم، استدلال، او منطق"....

ماپښین مي له استاد حبیب الله رفیع سره ولیده او د څېړنغونډي په جوړېدا خبر وو له روغتیایي حالته څه ناراضه ښکارېدئ، خو بیا هم لکه هر کله په خورا ورین تندي ئې د ګډون غوښتنه ومنله .مازدیګر مي له حکمت خلیل کرزي سره لیدنه وه، د څېړنغونډي طرحه مي وروسپارله او د شلو فوټوکاپیو اخیستو پېرزوینه ئې راباندي ولوروله، څېړنغونډه ئې ډېره مهمه او حساسه وبلله او د خپلو زحماتو، دووماسټریو، د سولي او شخړي د څېړني په نامه ئې د یوې طرحي له پاره یو نیم کال په سینګاپور، تایلنډ، فیلیپین، اندونزیا کي د سفر خوارۍ بیان کړې.

سبا ستړې ورځ له سهاره پیل سوه .تر اتو بجو وړاندي مي له ډاکټر توتاخېل سره په ګډه د لوړو زده کړو دوزارت له مالي او اداري مرستیال پوهندوی ولیزي سره ولیده، د څېړنغونډي د لګښت خبري یادي سوې له معمول سره سم د چا چي زړه نه غواړي نو په دولت کي پېره د بودیجې پر کمښت ور اړوي او په شخصي کار وبار کي وایي، زه خپله پوره وړی یم.

تر هغه وروسته مي له پوهاند بري صدیقي سره د څلوېښتو کلونو د محصلانو پر حالاتو څه خبري درلودې.

تر غرمې وروسته مي په آزادۍ راډیوکي له استاد غضنفر سره ولیده، ګټوري مشورې ئې درلودې، خو د خپل ګډون په اړه ئې ډېر ډاډ را نه کړی، د ښاغلي نجیب منلي، ډاکټر ابراهیم شینواري او ډاکټر تنها خبرېده او پرکوم څه باندي لیکلو ته

بلنه ورکول او وڅېړنغونډي ته د ډېرو ځوانانو او محصلانو رابلل ئي ښه مشورې وې .وروسته مې یوه لنډه نیم ساعته مرکه له آزادئ راډیو سره درلوده.

مازدیګر د مشر استاد بختاني صاحب د روغبړ او درناوي له پاره کورته خیرخاني مېني ته ورغلم .روغتیا ئې پرله پوري نه وه، خو بیا هم په ځېړنغونډه کي ئې د ګډون او څه لیکلو یا ویلو له پاره زړه را پوره کړئ .د خدای په امانی پر مهال ئې راته وویل ..." :یو ناز درباندې کوم، زما یوه، دوې مقالې په ۱۳۲۸-۱۳۲۹ کلونو کې د" ښځه د پښتنو په نظر کي "او" په اسلام کي د ښځو حقوق "په نامه په کابل مجله کي خپرې سوي دي، که ستاسي د کتابتون په کلکسیون کي وې راته فوټو کاپي ئې کړئ"....

له هغه وروسته خوشال خان مېني ته ولاړم او له ډاکټر فاروق اعظم سره مي ولېده، په دې کتنه کي دکندهار پخوانی مستوفي ښاغلی حیدر جان هم حاضر و .دڅېړنغونډې بحث ډاکټر فاروق اعظم لومړی پلا اورېدئ او طرحه ئې هم په تلوار وکتله، لوی او اړین کار ئې وباله، خو د پایلې یا نتیجې په اړه ئې څه شکمن غونډي ایسېدئ.

په سبا ئې له سلهاوو معنوي ډاډګېرنو او ځو محدودو مادي ناامیدیو سره کندهار ته راستون سوم او خپل ستانه مي وننګول .له هر چا سره چي مي لېدل دا ډاډ ئې راکاوه چي دا کار به هرومرو کېږي، او په کندهار کي به کېږي او تر پایه پوري به ئې په ګډه سره پالو .دکندهار پوهنتون د علمي شورا غړي او مشرتابه، د سوداګرۍ خوني درانه مشران، دولایتي ادارې او ښاروالۍ ځیني دوستان، ځیني ملي سوداګر ګرده په ښور کي سول او د لګښت د موندني لارې چارې ئې پر غاړه واخیستلې .د درنو مېلمنو د بلني چاره ئې ماته راوسپارله او سمدستي مي د ټولو په ایمېل ادرسونو او ټیلیفون نمبرونو پسې لېځي راوغوښتې او په ایمېل او تیلیفون کي مي د ځېړنغونډې د جوړېدا په اړه معلومات ورکول او د ګډون او مقالې دلیکنګ هیله ځني کوله، د ځینو مشرانو استادانو خبرې که څه هم لنډې وې خو خورا په زړه پورې وې.

دمځکي د کرې ګردې والي او د وخت بدلون په ما دا کانه ځو پلا وکړه چي ځینو استادانو او دوستانو ته مي په ډېر نا مناسب وخت کي د نیمي شپې پر ۲-۳ بجو یا سهار د ګهیځ پر ۵-۶ بجو زنګ وهلی دئ، خو په ډېر مهربان ږغ به ئې ځواب راکاوه .زما لومړی ټیلیفوني اړیکی له پوهاند صاحب حسن کاکړ سره و، د خبرو په ترڅ کي ئې راته وویل ..." :پر له پوري نه یم، سکاروې راته مخه کړې ده، ګډون کولای نه سم، خو د امان الله خان په اړه به خپله مقاله درولېږم "...په خبرو کي ورولوېدم :ستاسي هره لیکنه موږ ته منظور ده، خو دا ځېړنغونډه د وروستیو ځلوېښتو) ۴۰ (کلونو په اړه ده .په ډېره خوږه لهجه ئې زیاته کړه" :ښه سو روکیه چي راته ودې ویل ... زه به د داؤد خان په اړه څه ولیکم .زما دا عقیده ده، کندهار پوهنتون چي د افغانستان دوهم) کېدای سي مقصد ئې درېیم و (پوهنتون دئ، هغه لومړنی سي، دا ځکه چي زما خاصه علاقه له کندهاره سره ده، زموږ د سیاست او علم منشاء له هغه ځایه ده"....

له ډاکټر عبدالروف رفیقي سره په خبرو کي ..." :دپاکستان له خوا وېزه څه ګرانه ده، بیا هم کوښښ کوم".

له ډاکټر نبي مصداق سره په خبرو کي ..." :په سره اور کي یاست خدای مو راوساته ...هڅه کوم درسم، مقاله حتماً لیکم".

له پوهنمل ځواکمن سره په خبرو کي" :دافغانستان د اوسني جیوپولیتیک موقعیت په اړه به پریزینټېشن وړاندې کړم".

ډاکټر صاحب هاشمیان په خپلو خبرو کي خاص ارادت وښووئ زیاته ئې کړه ..." :روغتیایي حالت مي په کنفرانس کي د ګډون خنډ دئ، مقاله به درولېږم .زه همېشه غواړم کتابونه، بولټنونه او مجلې درولېږم، خو د کابل پوسټ ئې سانسور کوي".

د پروفیسر درویش دراني په خبرو کي ..." :اوس له پوهنتون څخه فارغ یم، په پوره زړه کولای سم ستاسي په ځېړنغونډه کي ګډون وکړم".

ښاغلی جهاني په لومړي پلا د ګډون ژمنه وکړه او د ټکټ د تابیا ډاډ ئې وغوښتی، خو په سبا ئې ایمېل راورسېدئ چي ډاکټر) معالج؟ (کندهار ته د تګ اجازه نه راکوي.

داکاډیمیسن نوماند اعظم سیستاني په خبرو کي خپل عذر وواېه ..." :مېرمن مي له دریو کالو راهیسي د زړه، فشار او فلج په ناروغي اخته ده، له کوره لیرې کېدای نه سم، مقاله به په ایمېل کي درولېږم".

پوهنوال رسول باوري په لنډه کي راته وویل ..." :دغه آن له اروپا څخه کابل ته، کورته راورسېدم، مقاله مي تیاره ده، یو وار پوهنتون ته ځم او له ملګرو سره بیا کندهار ته درځم".

ډاکټر پالوال په خبرو کي راته وویل ..." :وخت مي خپل دئ، هرڅه او هرڅونده لیکلای سم".

ډاکټر علم پائند په خبرو کي راته وويل ..." :ګډون کولای نه سم، خو يوه مقاله او يو پيغام درلېږم چي ستاسي بلنليک راورسېږي.په تېره پلا دکندهار په سفر کي د ورونو)موخه به ئي اوسني سياسي کندهاري ورونه وي؟ (ترمنځ د مخالفت خبرو متاثره کړی يم".

غوث خيبري په خبرو کي راته وويل ..." :د سترګو په لچ) خوږ (اخته يم، په نژدېو ورځو کي مي د سترګي عمليات دئ .د سيمينار له ټولو ګډونوالو څخه د دعا غوښتنه کوم .زما شپږ اثره دانش چاپ کړي دي ورته وبه وايم چي هغه ستاسي غونډي ته درولېږي ....ډېرو پښتنو مورخينو هغه څه ليکلي نه دي، څه چي ما ليکلي دي او يا ئي هغسي ښکاره او بربنډه توضيح کړي نه دي لکه ماچي کړي دي، ګوندي زما دا آثار د پښتنو او ستاسي د سيمينار له پاره په درد وخوري".

مېرمين پروين ملال په خورا ورين تندي بلنه ومنله او يوازيني هيله ئي ددباندنيو چارو وزارت له لاري خبرېده وه.

ډاکټر زمان ستانېزي په خبرو کي وويل ..." :د نوامبر له درېيمي تر لسمي پوري په ترکيه کي سيمينار لرم، که وړاندي يا وروسته وي، ګډون کولای سم".

د څېړنغونډي يو بل لېوال سهار چايو ته وربللي وو او د څېړنغونډي پر اقتصادي اړخ ئي ډېر ټينګار کاوه، د څېړنغونډي د مقالو د ټولګي د پنځوس زرو ټوکو په تېراژ دچاپ وړانديز ئي وکړئ او د پنځه ويشت) ۲۵ (زرو ډالرو د بسپني ژمنه ئي وکړه، چي په پای کي پر پنځمه برخه باندي ودرېده، بيا ئي هم کور ودان.

په ډهلي کي د افغانستان سفارت ددې علمي نړۍ والي څېړنغونډي په وياړ د افغانستان هندوستان بنسټ) فونډېشن – (IAFله خوا په کندهارپوهنتون کي د يو څېړنيز مرکز جوړېده منظور کړه، چي د سيمينارونو دايرول، د څېړني د مرکز سمبالول، د استادانو او څېړونکو د لېږد رالېږد مالي ملاتړ، دکتابونو رانيول او چاپول، د کتابتون سمبالتيا او داسي نور پروګرامونه به پر غاړه اخلي) درسمي پاڼي يوه کاپي ددې ټولګي په پای کي چاپ سوې ده.(

د څېړنغونډي د لګښت له پاره د راټولي سوي مالي بسپني او غيري نقدي مرستو لست هم ددې ټولګي په پای کي راوړه سوی دئ او د اکاډيمی د يوولسو غړو د راتګ او تګ د الوتکي ټکټان خپله د اکاډيمی رئيسي څېړنپوه ثريا پوپل کړي ول، چي لو مړانه ئي کړې وه.

دشپې تيري له پاره د کندهار د سوداګرۍ خوني رياست، کندهارګمرک او افکوکمپنی په خپلو مېلمستونونو کي ګردو مېلمنو ته د اوسېدو خورا ښه شرايط مهيا کړي او خورا ئي نازولي ول .د څېړنغونډي وروستی شپه د حاجي عبدالله ايوبي له خوا يوه ماښامنی او د ټنک ټکور په زړه پوري پروګرام نيولی و .د څېړنغونډي د موخي د ښه پېژندني له پاره دښاغلي عبدالکريم هوتکي له خوا دوپنځوس) ۵۲ (شيلډونه جوړ سوي او پر مېلمنو باندي ووېشل سول .په وروستی ورځ د مېلمنو د خدای په اماني پر مهال د وچي او لندې مېوې داتحاديي له خوا د وچي مېوې او انارو څلوېښت کارټنونه د تحفې په توګه ټولو مېلمنو ته ورکړل سول.

په کندهار کي د مېلمنو د اوسېدا پر مهال د کندهار د امنيتي او پراتيفي همرغی ډلي، ټرافيکو، د ټرانسپورټ رياست، د ميرويس روغتون او طب پوهنځي روغتيايي ډلي، ښاروالی، د قبايلو رياست، اطلاعات او کلتور رياست ځانونه خورا راسره ستړي کړي دي.

د څېړنغونډي له مطالبو او مباحثو څخه نه يواز ي په دالان کي ناستو خلکو ګټه واخيسته بل لا د افنيټ AFNet او د لراوبر وېبپاڼي د مسؤل ښاغلي عبدالله احسان په ځانګړې مرسته موږ وتوانېدو د څېړنغونډي بهير په آن لاين (Online) توګه د انټرنيټ په څپو کي خپور کړو، د څېړنغونډي د درېيمي ورځي د ماپښين تر دوو بجو پوري ۱۴۷۴ کسانو په ژوندی بڼه دڅېړنغونډي بهير کتلی و.

دڅېړنغونډي د مقالو د ټولګي د چاپ ژمنه پر هغه مهال بل چا کړې وه، خو کله چي ټولګه چاپ ته تياره سوه د هغه اړخ نه ورته لګېدی، نو يو بل نوي جوړ سوي بنسټ) دغازي ملا نقيب الله اخند دښېګڼي بنسټ (د ټولګي د چاپ لګښت پر غاړه واخيستی.

د څېړنغونډي او ننداړتونونو په ډيکورېشن، سمبډو، تخنيکي برخه او د مېلمنو په مېلمه پالنه کي د پوهنتون استادانو، محصلانو، کارکوونکو، د سوداګرۍ خوني مرستيال انجنير عبدالباقي بينا او نور ملګري ئي، ښاروال او د ښاروالی کار کوونکو ځانونه دوني ستړي او ستومانه کړي ول چي د مننې له پاره ئي هيڅ وړ کلمات موندلای نه سم.

د پورتنيو ګردو مادي او معنوي مرستو، ځغاستو او تراټو، ستړيا او ستومانيو، ګټورو مشورو او لاس نيونو څخه د زړه له کومي مننه کوم.

څېړنغونډي د ټولو برياوو په څنګ کي ځيني محسوسي نيمګړتياوي هم درلودې لکه:

- دتنظم شاهۍ) ۱۹۹۲-۱۹۹۶ (طالب شاهۍ) ۱۹۹۶-۲۰۰۱ کلونو (او د اوسنی دورې) ۲۰۰۱-۲۰۱۳ کلونو ( ناخوالي، نیمګړتیاوي او تېروتني ډېري ونه څېړل سوې.
- دراتلونکي له پاره) باید څه وسي؟ (ته بشپړ ځواب ونه وایه سو.
- ځینو مقالو د ګذارش بڼه درلوده.
- په ځینو مقالو کي تر علمي څېړني او سپړني، احساساتي اړخ پیاوړی و.

دې څېړنغونډې دا رازده کړه چي په لاندي دریو ټکو کولای سو یو بریالی او منظمه غونډه ولرو:

۱ـ دقیق او هر اړخیز پلان

۲ .کاري او ملګرې ډله

۳ .اخلاص او همت

په درناوي
څېړندوی شېرشاه رشاد
دپاچاخان علمي څېړنیز مرکز رئیس